مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم ګل سحر

۲۰۲۱/۰۳/۰۸

# يو غمی د سیند په تل کې

يو غمی د سیند په تل کې رانه ورک شو
نه پوهیږم په څه چل کې رانه ورک شو

اننګو کې دې زما د کتو فصل
توکیدلی و، په ګل کې رانه ورک شو

یو شین خال به مې نمانځه همیش په زړه کې
ستا خواره واره اوربل کې رانه ورک شو

د شاني خوله کې زما ارمان نیمګړی
د هغې د زلفو ول کې رانه ورک شو

د نیرون* په هوسونو کې لاهو شو
خوږ کابل مې په کابل کې رانه ورک شو

6\8\1382
پکتیا،زرمت-اسلامخیل
علم ګل سحر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولـئ